همکاری
آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

# د ملي پراختیایي پروژو تعقیبول، د افغانستان اقتصاد وزارت په ټولو ولایتونو کې د څارنې او راپور ورکونې ډیټابیس پیل کړ

محمد رحیمي ټینګار وکړ چې« د ولایتي څارنې او راپور ورکونې سیستم (PMRS) اوس په ټولو افغان والیتونو کې معرفي شوی او دا آنلاین کار کوي. په یو کلک کې، تاسو د پرمختللې نیټې تازه معلومات وګورئ. والیان به اوس د خپل ولایت د ټولنیزې اقتصادي پراختیا په اړه پوه شي»

د اقتصاد وزارت د ملي پراختیایي پروژو د پرمختګ او پایلو په پام کې نیولو سره د دغو پرژو د تعقیب او څارنې مسؤلیت پر غاړه باندې لري. پخوا به د اقتصاد وزارت د مکتوب سیستم کارولو چې د ډېرو اداري کارونو له پړاونو څخه لامل کېده او ناسم معلومات (ډیټا) به یې وړاندې کولو. د ملي پراختیایي پروژو بودیجه، پرمختګ او وضعیت/حالت به اکثره څرګنده او روښانه نه ووْ.

د بدخشان مرستیال او سرپرست والي، ښاغلي اختر محمد خیرزاد وویل،«، موږ به په لیوالتیا سره دا سیستم تعقیب او پرمخ بوځو. موږ د خو کلونو لپاره د داسې سیستم په تمه یو. دا موږ ته د دې توان ورکوي چې ځان په بدخشان کې د پروژو اقتصادي ټولنیزې پرمختیا په اړه خبر کړي. هغه زیاته کړه، "د دې سیستم په مرسته د پروژې پلي کولو کې عدالت او مساوات به په پام کې ونیول شي.»

د دغو ننګونو د له منځه وړلو او راپور ورکولو پخواني سیستم په ځای کارولو لپاره، د اقتصاد وزارت د ولایتي څارنې او راپور ورکونې سیستم (PMRS) جوړ کړی. د مرکز او ولایتونو په کچه دولتي چاراوکي کولای شي چې دغه نوی، اسانه سیستم د پربکړو او د پالیسی جوړولو لپاره کارولای شي. د نورو معلوماتو ترځنګ، په دغه سیستم کې د پروژو د بودیجې، تخصیص او تطبیق پرمختګ او هغه ځایونو په اړه معلومات شامل دي چې روڼتیا او همداراز حساب ورکونې ته وده ورکوي. دغه ډیټا ته د ښکېلو ادارو او بودیجوي واحدونو/ادارو لپاره آنلاین موجود دی.

په یو مقدماتي مراسمو کې، د اقتصاد وزارت د افغانستان ۳۴ ولایتونو څخه راغلي ټولو حکومتي چاراوکو ته د ولایتي څارنې او راپور ورکونې سیستم (PMRS) ور پېژندلی دی. اوس باید دغه مسؤلین دا باوري کړي چې نوموړي ډیټابیس ته په دوامداره توګه دقیق او تازه معلومات (ډیټا) ورسوي. دغه پروژه به د افغانستان ملي پراختیایي پروژو او د دوی د پرمختګ یو روښانه انځور وي. انعام (پایله ) به یې د افغانستان د ملي پراختیایي پروژو او پرمختګ روښانه انځور وي.

*په افغانستان کې د څارنې، ارزونې او عامه اړیکو پروګرام (MEC) ) د آلمان نړیوالې همکارۍ ټولنه (GIZ) د آلمان د اقتصادي همکارۍ او پراختیا وزارت (BMZ) په استازیتوب پلي کوي. د دغه پروګرام موخه، د څارنې او ارزونې ظرفیتونو په لوړولو کې له افغان حکومت سره مرسته کول دي. د دې موخې لاسته راوړلو لپاره د څارنې، ارزونې او عامه اړیکو پروګرام (MEC) د افغانستان د اقتصاد له وزارت سره په مرکزي او ولایتي کچه د څارنې او راپور ورکولو سیستمونو په تطبیقولو کې مرسته کوي. دغه پروګرام د وزارت کارکوونکو لپاره د ارزونې کورسونه هم وړاندې کوي او د پایلو، اغېزمنتیا او ثبات د معلومولو په موخه د اقتصاد له و زارت سره په ملي پراختیایي پروژو باندې د اغېزې ارزونو په برخه کې مرسته کوي. دغه کار به پراختیایي پروژو کې د شفافیت او حساب ورکونې کچه زیاتوي.*

Teaser text:

فیض اباد، بدخشان، د ۱۳۹۸ کال، غویی د میاشتې ۲۶ نېټه، پرون د اقتصاد وزارت د پالیسی او مسلکي چارو معین ښاغلي محمد اسماعیل رحیمي د بدخشان، تخار او کندز ولایتونو دولتي چاراوکو ته د ولایتي څارنې او راپور ورکونې سیستم (PMRS) ور وپېژنده. دوی زده کړل چې دغه ډیټابیس څنګه وکاروي چې په افغانستان کې ملي پراختیایي پروژې تعقیبوي او له پرمختګونو څخه یې څارنه کوي. دا به د پروژې تطبیق اسانه کړي په داسې حال کې چې په ورته وخت کې د روڼتیا او ځواب ورکونه هم زیاتوي. اوسمهال د افغانستان په ټولو ۳۴ ولایتونو کې دغه سیستم معرفي شوی دی. د افغان جرمن همکارۍ د دغه ډیټابیس په جوړولو په برخه کې مرسته کړې ده.

تقدمونه:

د انعطاف وړ پروګرام جوړونه

Province:

بدخشان

Downloads:

د ملي پراختیايي پروژو تعقیبول، د افغانستان اقتصاد وزارت په ټولو ولایتونو کې د څارنې او راپور ورکونې ډیټابیس پیل کړ

Image:

PR_MEC_PMRS

د خبر ډول:

Press release

26.02.1398

- English
- Deutsch
- دری